PROPERTY OF ACKU 7341

دمینی افسانه

لیکوال :

صمد بهرنگی

PROPERTY OF ARIC Established 1989

ژباړونکی : احسان آرینزی

د ډیموکراتیک کتاب خپرولو موسسه
۱۳۵۷ کال

سريزه

گرانو ماشومانو :

تاسوچې خپل شا اوخوا ته گورئ ، د يرشيان وينئ: انسان ـ غر
ونه ـ کور ـ ښه ـ بد ـ خوښی ـ غم ـ رنگه ـ ودانه او په زرگونو نور
شيان .چې ټول ستاسو له پاره په زړه پورې دي او تاسو ته د يري
پوښتنې درپيدا کوي . مثلا تاسو وينئ ، لکه څنگه چې غرونه اوونې يو
شان نه دي ، خلک هم يو شان نه دي . يو ښه ډئ ، بل بد . يو د يرشتمن
او د پيسو خاوند او هوسا ډئ بل بيوزلی او نيستمن . په ښوونځی کې
يوزده کوونکی وينئ چې د لوړې ټيې جامې اغوندي . په خواړه خوری په
ښکلی پکمس لري ، اصيلی کتابچې او قلمونه لري ، په څوپوړيزه ښکلی ښکله
يا لويه کلاکې استوگن ډئ ، موټرلری ، مريونه او نوکرلری ،
تل روغ وی ، خوشاله وی او ... يو بل زده کوونکی وينئ چې جامې
يې زړې دی لوښی پښې ښوونځی ته راځی ، چای او ډوډی يا شړمبې
او ډوډی خوری ، کورنه لری . دخان په غوجل يا يوه بله رنگه کې
اوسيږی . تل نا روغه وی ، زړه يې خورين وی او ...

الف

نو تاسې هروسرو له ځانه پوښتنه کوئ چې ولې یو دومره نیکمرغه اوهوسا دئ او بل دومره نا آرامه-بیوزلی او بدمرغ ؟ اوغواړئ چې دخپلودغو پوښتنو له پاره سم ځوابونه پیدا کړئ .

گرانو ماشومانو ستاسو دمعلوماتو د زیاتوالې او د پاسنیو پوښتنو دځواب له پاره څولاړې شته : کولای شئ چې دخپلو میندو پلرونو اونورو مشرانوڅخه پوښتنې وکړئ، له خپل پوونکی نه تو ضیحات وغواړئ ، راډیو ته ځوړند ونیسئ ، کتاب ولولئ او...

تاسوتل پوښه اوخواږه ملګری ته اړه لرئ. پښه کتاب د پښه ملګرې په شان دئ ، پښه کتاب یونه ستاسو هرراز پوښتنو ته ځواب ونه درکوئ.

دغه کتاب چې تاسو یې لولئ پوښه او دلوستلو ور کتاب دئ چې صمد اکا لیکلی او احسان اکا په خوږه ژبه ژباړلی دئ.

تاسو صمد اکا پیژنئ ؟ نه یې پیژنئ ؟ نو راشئ چې په ګډه یې وپیژنو:

صمد په هرنګې د کلی بچئ ؤ ، دخپل کلی په خا ورو - دورو کې د نورو ماشومانو په څیر لوئ شو ، کورنۍ یې ډیره بیوزلی او نیستمنه وه پښوونځی یې په ډیرو ستونزو ولوست . په ۱۸ کلنۍ کې د کلی پښوونکئ شو . ۱۱ کاله یې معلمی وکړه . دمعلمی په څنګ کې یې د کلیوو د کړو وند ګړو شپنو او د بڼا ر د خواری کښو ماشومانو له پاره پښه کتابونه و لیکل ، د د ه لیکوالۍ د خلکو په ژبه وه خو ماشومان پرې پوه شی . ده ظلم ، عدالت شتو ، لوړې ، ښو ، بدو ، خوښی اوغم په هکله ډیر - ډیرځه

لیکل او ډیوزلی ،ظلم اولوړي دورکولو لارې په یې ښوودلې .
بهرنګی دخواري کښومااشومانو ښه‌ملګري اوا کا ؤ، دی په
کلیوالو ماشومانوهم ډیرګران ؤ.

بهرنګی دخواروخلکوله دلې څخه ؤ اوتولې لیکنې یې ددوی
له‌پاره وې . دده اودنورو کلیوالو تر منځ هیڅ توپیر نه‌ؤ. په
کور ، جومات ، دونو په سیوري اوهدیروکې به یې تولګی جوړول
اوخواري کښومااشومانو ته به یې سبق ورکاوه . ده دکلیوالو په
ژوند چاروکې ګډون درلود اوډلو ـ درمند ـ دقران عظیم الشان
په‌ختمونو ، جومات اوودونو په غونډوکې به یې برخه اخسته .

اکا ډیوزلو کروندګروا ودوی د زامنو ښه‌ملګری اودخا نانو
اوکلیوالی پانګه والو کلک دښمن ؤ . دی مخکې له دې نه‌چې
دخواری کښوښوونکی وی دخواری کښوشاګرد ؤ. ده خپل داستا نونه
دخلکو له‌منځه تاکل اولیکل او له چاپ څخه مخکې به یې دکلی
ماشومانو ته لوستل خو د داستان نه‌مګرتیاوی لیږې شی .

بهرنګی اکا دخلکو په‌قدرت ایمان درلود، دی دخپل یوه
داستان دقهرمان په باب لیکی: «دکوراوغلو قدرت ، همغه دخلکو
قدرت دی . همغه بې‌پایه قدرت چې د تولوقدرتونو سر چینه ښکل
کیږی . دکوراوغلوستره ښیګنه داده چې په‌دې قدرت ایمان لری

او پرهغه يې ډډه لګولې » (۱)

بهرنګی به ما شوما نوته وېل:

« راتلونکې يې له‌شکه ستاسو په‌لاس کې ده چې ښه اوبد يې هم په تاسو پورې اړه لري . تاسو هرومرو لويږی اودخپلو نيکونواو پلرو نو ځايونه نيسئ .. . تولنيز ژوند به له خپلوتولو ښيګنو اوبديو سره ستاسو په‌لاس کې وی . .. تولنه تاسوته ميراث کړپاته کيږی ، تاسو بايد دامير اث کټ مټ خپلو زامنوته ونه‌سپارئ ، تاسو بايد نيمګړتياوې او بدی لرې يا بالکل و رکې کړئ . تاسو بايد ښيګنې زياتې او بد مرغيو د ارو پيدا کړئ . تولنه بايد کټ مټ ونه ساتله شئ . »

ګرانو ماشوما نو وينئ چې بايد دا کار له ژوندنه اوددنه له ليکنو څخه پند وا خلو . سره بايد په خلکو باندې دده له ايمان ـ ددنه د مبارزې له جرئت او ددنه له انقلابي ليکنو څخه ډير ـ ډيرشه زده کړه .

« دمينې افسانه» يوه‌خوږه اوپه زړه پورې کيسه ده . کاکا په دې افسانه کې دربار ، پاچا ، د پاچا لوراوددوی جلادان راښيي ، ددوی ظلمونه، وهل ټکول او وژنې برېنډوی . بلې خوا ته ښه او

---

(۱) ـ د بهرنګی داکتاب هم په پښتو ژبا ړل شوی چې ژربه چاپ او د ګرانو ماشوما نو لاس ته ورسيږي .

خو ا ری کښ خلک و ینو حمید ځوریې گل غا نگه ، اووه توری جوړ-
ونکی ورو نه ، دد وی مړمنی او بالاخره د (غا تول) گل .

دا کسا ن د خلکو نه ارپاځیدلی ځکه مبا رز اوا نقلا بی د ی .
دمینې په افسا نه کې بهرنگی دخلکو دښمنا نو یعنی پاچا او دده
جلادا نو ته په کرکه گو ری اود انقلا بیو نو او خلکو ښیگنې ، صفا ،
صمیمیت ، زړه ورتوب او هوښیا ری ستا یی . اووه توری جو ړونکی
ورونه د ا نقلا بیو نو له پا ره توری جوړوی خو د خلکو د د ښمنا نو سره
وجنگیږی ، «غا تو له» چې د گل ښه یی غوره کړی ده یوه ا نقلا بی ډیغلمه ده .
د ا د غا تول گلو نو یا په بله ژ به د ا نقلا بیونو شهادت او قربا نی په خپلو
ستر گوو ینی . «غا تو له» د نورو غا تولو په شان سرښندو نکی او فدا کا ره
ده . په دښته کی یوا زی پا ته کیږی خو بیا د ښته له غا تولو
څخه چې که اوسر ه کړی .

حمید د ا فسا نی قهرمان د پاچا د لور او «غا تولی» د تو پیر په باب
وا یی : «د پاچا د لور کړه وړه او اخلاق ناوړه او د یره په ځان مینه ده
زه د غا تولی یوویښه د پاچا په زړو لورا نو نه بدلوم »

د پاچا لور (گل غا نگه) په اول کی یوه مغروره ، ظالمه ، په ځان مینه
او د رباری نجلی ده ... خوورو سته خپله مانی ، پاچا هی د ربا ر ،
خپل پلار او جلادان تول پریږدي او له حمید سره ټښتی . دا ښکیښه له
حمید څخه زده کو ی .

وه ماشومان ښې کيسې لولی او له هغوڅخه ګټه اخلي . دا کتاب ښه ښه غو رولولی . که موخوښ شو موږ پرې خبر کړی چې بيا هم ښې کيسې درلېږدا او چاپ کړو . (م - غ)

د مینې افسانه

ژ نه ژ یو پاچا ژوند شېږو ، او و کلو یوه لوړې درلوده .
دې نجلی یومزدورهم درلود چې تر دې لږ مشرۍ او حمید نومیده،
که به دوډی به وخت کې د نجلی د سمال به محمکه ولویده حمید به بیرته
ورکړ. که به دلوبو به وخت کې توپ لیرې ولاړ، حمید به ورته راوړ،
کله به هم د پاچا د لوړزړه دلوبودکې شمیر سامان محخه تور شو
او د کاك ډنډي هوس به ورغی . د پاچا د لور کاك ډنده د سرو
سپینو وه .

لومړی محل چې د پاچا لور د کاك ډنډي هوس وکړ ، پاچا
د هارتول زورکران راغونډ کړل او امر یې وکړ چې د لور کاك ډنده
یې باید تر یوه ساعته پورې جوړه شی . په دې کاك ډنډي کې یو
ملیون زیاتې روپۍ مصرف شوې او یو زرکر هم په دې کار ووژل شو .
محکه ویلی یې ژ چې هرورکار لرم او نه شم در تلای . زرکر
د خپلې کوچنۍ لورلپاره لښتی جوړ ولې .



هروخت به چې دپاچا لور په کاڼي ډنډه بوخته شو حمید به لږ لږې
ستر گې په لارو درید، دپاچا لور به د سهیلو زړو کوچنیو لرګی په ځنګه
کې ښکاره شود او د سهیلو زړو په اوږه ده ډنډه به یې په ځنګه ووا هه او یسته
به یې غوږا رکړ، حمید وظیفه د ولوده چې به لرګی پسې منډه کړي،
هورته یې کړي او بیرته یې شهزادګی ته ورو غورځوي. شهزادګی به په
هوا کې لا تینګه ووا هه او نور به یې هم پسې لږې وغورځا وه.
حمید به بیا ولاړ هغه به یې راواخیست او د شهزادګی خوا ته به یې وغور-
ځاوه، کله به چې شهزادګی ستړی شوه حمید به هم ولاړ د شهزادګی د لو ښود
سامان خاص سا تونکی به یې خبر کړ چې راشي، کاڼي ډنډه یوسي او د لو ښو
د نورو زرګونو شیانو لو ترځنګه یې کیږدي. ورو سته به حمید د شهزادګی
د جامو سا تو نکی ته ورغی چې شهزادګی ته د خوړو خاصې جامې ورو ړی
او د کاڼي ډنډې جامې راوړي په خپل ځای یې کیږدي.

حمید به ښاد پاچا د لور د مخصوص اشپز د خبر تیا لپاره ورغی څو
نجلی ته د کاڼي ډنډې نه ورو سته خوا ړه ورو ړی، دپاچا لور به
د هرې لوبې په پای کې به خاص خوا ړه خوړل.

د حمید تل همدا وظیفه وه کله به چې نجلی ویده شوه د وظیفه
د ولوده چې ټولو ته خبرور کړي چې شهزادګی ویده ده، څه سه وا یې او څه
سه ښوښتی ده.

د پاچا لور به چې هرامر درلود حمید به په سره سینه اوژر سرته رساوه او کار ونه به یې هسې څه تر سره کول چې شهزاد ګی هیڅکله دو هلو لاس نه وپرې پورته کړی. حمید د پاچا په لورمین ۍ، رښتیا رښتیا پرې ګرانه وه، حمید داکار بدنه ګانه، هیڅ ویره نه ورولویده او دعیب وړ یې نه بالله څکه یې یوه ورځ نجلی د زړه په راز خبره کړه.

هغه ورځ شهزاد ګی په بن ګی پټنګان نیول، حمید هم تر یوې ونې لاندې ولاړ اودې ته یې ګتل. کله به هم چې کوم پټنګ د ونې په سر کیناست حمید وظیفه درلوده چې په ونه وخیژي او هغه راوالوزي، ناڅاپه شهزاد ګی پر یوه ونه یولوی پټنګ ولید، حمید ته یې ورغږ کړاوو یې ویل: حمیده راشه داته ونیسه زه تړې دا ریږم.

حمید ورسره کړه پټنګ یې ونیواودښکار په تکری کې یې واچاوه، کله یې چې سر راپورته کړ نجلی مخامخ ورته ولاړه وه ده هم په دا کې او سپین ورته وویل: او ګلالی زه په تا مین یم، راشه زما ماند ینه شه...

دده خبره لا پای ته نه وه رسید لې چې د پاچا دلور څېره یې پرسخ ولیګده اوچې یې کړې: ای بې څه او بوتې مزدوره... ته څه حق لرې چې په ما مین شې؟ دا خبره دې هیره شوی ده چې زه د پاچا لوریم او ته یې مزدور یې، ته زما د سپی د پښو خاورو ته هم نه شې رسیدلای...

سمیه ... ورځشه دستر گو نه مې لوړې شه ا . ورشه و ینځو ته مې وو ایه چې راشی او ما یو سی . نور نو نه غوا ړم چې ستا ځیرې ستر گې ما وو ینی .

حمید ورغی و ینځې یې خبری کړې . و ینځې د تخت روان سره راغلې اوو یې لمدل چې د پاچا لور بې سده پرته ده . و ینځی او سر یوو نه په حمید ورتول شول چې د پاچا په لور دې څه وکړل ؟ ... حمید وویل ما هیڅ ندې پرې ګړې یخپله په غوسه شوه زه یې سخت وو هلم او بې سده پریوته ، په چار یارو اواصحابو قسم .

خوچا منله ؟ کلاب او شربت یې راوړل ، نجلی چه شوه ، په تخت یې کینوله او مانی ته یې بوتله ، د پاچا لور امر وکړ : پلار ته مې وو ایاست چې ددې نمک حرامه مزدور څوډونه چه پرې تاو کړې او دسې په شان یې دمانی نه وباسی . نور نو نه غوارم چې د ځیرې ستر گې یې ما وو ینی .

د پا چا د امره سره سم حمید همغه ګړی له دربار څخه و شړل شو د پاچا لور څوورځې نا روغه شوه ، هره ورځ به یې هوتنو طبیبا نو ته ورته کوله ، په پا ی کې دې یخپله وویل چې روغه شوې یم او طبیبا ن یې ر خصت کړ ل .

(۴)

کلونه تیر شول او د پاچا لور هره ورځ او هر کال تر یخوا زیاته په ځان مینوده ، چا ته یې دسې په ستر گه هم نه کتل . کله چې ا تلس کلنه شوه

حکم یې وکړ چې هیڅوک حق نه لري دې ته
وګوري او په خپلو کتلو ددې پاک وجود نا ولی کړي. که د موږو
اومزدورانونه به چاسهوآ ورته وکتل تربسه پورې به یې متروکی
خوړې او که به یې خوله وخو ځوله چې څه وایی ژوندی به یې
د هغوی ولیوانو خولې ته چې د پاچا لورد خپلې تفریح لپاره په
بن کې سا تلی وه ورواچاوه. لوربې د همدې کارو په توسن په پاچا
ډیره کرانه وه او تل به یې دا سې ور ته ویل : لو ړې ، ډیره
رایاندې کرانه یې ته کټ مټ زما په لار روانه یې .
دپاچا لور دې پورې ته رسید لې وه چې تل به په بن کې یو ازې کرزیده
اودچاسره به یې خبرې نه کولې اوویل به یې چې ځوک یې وخبرولې ما ت
نه لرې شهزادګی د بن په مټ کی د وه لوی حوضونه جوړ کړي وو چې یو
به تل د تازه شودو اوبل به د یاسمنو، سرو ګلا نو او ګلابو د عطرونو
ځخه ډک و، ددې حوضونو دواړو خوا ووته به د وو سړیو ځارنه کو له
چې حتی خپله یې شهزادګی ته د کتلو حق نه درلود .
شهزادګی به لومړی د شودو حوض ته ور ننوته له هغه ځخه به د ګلابو
حوض ته راغله او په پای کې به یې ځان په د رومیال کی وغښتته .
دپاچا لور به ځان د نورو نه دومره لیرې ساته چې بیخی به یو ازې پاتې
شوه او نه به یو هیده چې وخت ځنګه تیر کړي. د لوبو د سامان ، پټ ګ
نیولو ، د ګلانو تولولو ، د شیدو او ګلابو د لمبو ، خوړلو ، څښ

اود لیوا نود لنداري څخه يې زړه تورشوی و ، ډ یر وخت به هم و یده وه او تل به يې حمید په خوب لیده . حمید به ر اغی چې د شهزاد ګی سره لوبې وکړي، شهزاد ګی به لږی خوشاله شوه خو سمد لاسه به وریا دشول چه د پاچا لورده اود نو رو نه ډ یر تو پیر لري نو به غوسه شوه او حمید به يې د ځا نه وشاړه خو حمید به نه پریښوده او غوښتل به يې چې د هغې لاسو نیسی ، شهزاد ګی به هڅه کوله چې خپل لاس تري لږي کړي خو آخر به نشوه او حمید به تر لاس ونیوه اود واړه به په لوبو ، سند و او پټنګ نیو لو بوخت شول . د لوبو په منځ کې به حمید شهزاد ګی ته و یل چې زه په تا مین یم .

ستا دې قسم وي شهزاد ګی کله چې زه هم ځوان شوم زما مه رمن شه ...

دته به ډاډ پاچا لور ته وریا دشول چې شهزاد ګی ده ، حمید به ا يې په خپره وواهه ، چیغې به يې کړې او شور زوږ به يې جوړ کړ . حمید به يې جلا دا نو ته وسپاره او نا ډوه به يې په خپلو چیغو کې له خو به را ترپ کړل ...

تل به يې حمید په خوب لیده ... د کوچنو الی او وړ کتوب په خبره ...

د پاچا لسورډ یر رور یې یاران هم د رلو دل ، غوښتل به ګان د لیرو ملکو څخه ددې په غو ښتنه راغلی ؤ خو دې نه کتلی نه لیدلی ټول

ور ته رخصت کړي ؤ چې په ما ښېله لها نه بل څوك ندي ګران .

(۳)

يوه ورځ د پاچا لور په حوض کې لمبل چې يوه ښکلی ګوتره راغله او د حوض لغاړې دانار د ونې په شاخ کښناسته اووې ويل !

اې ښکلې نجلی ته څو مره ښکلی يې ژه په تا مين شوم ، هيله کوم د شو د و څخه راووزه چه به دې ووينم.

د پاچا لور وويل: آه! بدرغې کوترې تا ته ډير کوم چه د دې لها په څخه ولاړه شه زه يوه شهزاد کی يم هيڅ څوك حق نه لري چې ما ته وکوري ، هيڅوك زما سره د خبرو لياقت نلري.

ګوترې وخندل اووې ويل: اې ښکلې نجلی زه يو هيوم د پروخت کهرې چه ملګر ی دې نشته څو ...

د نجلی نه هر شو ل چې د پاچا لو رده ، يو ناڅا په يې زړه نرم شو اووې ويل : اې خوږ ژبې کوترې ، هيله کوم چې ما ته مه ګوره ، به کا رندی. کوترې وويل: اې ښکلې اړا باندې ګرانه يې زما په واك کې نشته چې درته ونه ګورم .

شهزاد ګی وويل : اې خوږ ژبې کوترې زه خو نه شم کولای چې د ډوډې کوترې مينه ومنم که زه ر ښتيا د و پا ندې ګرانه وم او ته ر ښتيا په ما مينه يې نود دې ښې (کوتره) څخه د دې راووزه چې زه ستا ر ښتيا نی ځيره وو ينم .

کوترې وويل : اې ښکلې نجلی زه څنګه پاور وکړم چې ته به زما مينه ومنې؟ يوشی دې کړو را کړه څو زما زړه ډاډه شی او خپله

ښه بدله کړم.

نجلی وویل: اې خوږ ژبې کوترې چې هر څه غواړې، وېې غواړه، درکوم یې.

کوترې وویل: اې ښکلې نجلی خوب دې راکړه.

نجلی وویل: اې خوږ ژبې کوترې زما په خوب به دې څه درد وشي؟

کوترې وویل: اې ښکلې نجلی وروسته به پوهشې چه خوب دې زما څه په درد خوری.

نجلی وویل: اې خوږ ژبې کوترې خوبسی ستا.

داوخت د نجلی د سرئیود پښو څپاشوه چې د سمالونه یې په لاس کې ډ، سرونه یې محو زندوا وورو ـ وروراتلل، کوترې وویل: اې ښکلې نجلی خوب دې زما شو، سرئیونه دې راغلل زه لو څم وروسته به بیا راشم زه به تا «کل هانکه» لوم ډم دا به څه نه وي چه تا خو ندې ښکلی پرځله یې نومه وي.

دباچا لورته یوهلی وریادشول چه شهزادګی ده اوچیغه یې کړه: او نا ولیې کوترې تا څه حق د رلود چه زما سره دې خپرې وکړې، زما خوب یې ته راکړه او کنه زړه او کولمې به دې له ستونی څخه را وباسم، ته هیڅ حق نه لرې چه په هغه نا ولې خوله دې په ما نوم کوږ دې.

خو کوترې دوخته د انار له ونې هیڅ الوتې وه، شهزادګی یې هایه شوسنه وه او یې هایه یې خپل جلاد ان سرستې ته راغو چتل.

خواونی کیدې چې شهزادګی یوه کړی هم نه وه ویده شوې، خوب یې بالکل ورک شوی ؤ. په تلو لو یې د لیو فتو ب خیال کاوه، دلیونی سې په شان به په کوټه کی ګرزیده، په دروازو او دیوالو به یې خپې لګولې او ټول به یې بکښل، هیڅوک یې نه منل، حتی پلار او طبیبان یې، په شپو او ورځو به یوازې وه، اخر ستومانه شوه، نا روغه شوه اوپر ځای پریوته.

خو بیا هم خوب نه ورته، دا ځلې یې نه خبرې کولې او نه به ښوریده. اجازه یې ورکړې وه چې طبیبان یې سر ته راشی، و یې ګوري او ور ته لاړشی خو هیڅ طبیب یې په رنځ پوه نشو اووې نه کړای شول چې نا روغی یې درسل کړي، دپاچا دامره سره سم هیڅا په شهزادګی باندی دلاس وهلو حق نه درلود. په هغه ټولو طبیبان د دې په رنځ نه پوهیدل.

پوه ورځ یوزوړ اوله لیرې ځایه راغلی طبیب را غی اووې وې ل: زه پر ته لدې چې په نا روغ لاس ووهم کولای شم چې معاینه یې کړم او دارو ورکړم. که سی و نه کړی شوای سر سې غوښ کړی. پاچا وویل هغه نا روغی ته ورولیږه، زوړ طبیب د پروخت د نجلی ترغنګ کښیناست، ننداره یې وکړه اووې وې ل: یوازنی درسل یې (د هغې افسانه) ده پا یدیوځوک ورته د هغې افسانه واوروي غوچې څه شی اوخوب پرې راشي، پاچا امر وکړ او دنډو ره -

چه‌انو د ښارپه شا او خوا کې ډنډوره وغږوله : د هرچا چې د (مینې افسانه) زده وی، را دې شی او د پاچا لور ته دې یې واوروی خو حاکم یې شپږه مال اودولت ورکړی .

ډیر د مال اوشتو په تمه راغلل چه (د مینې افسانه) موژده ده خو کله په چې د نجلی د خونې دپردې شاته راورسیدل مجبور په شول چې خپه‌رښتیا اودرواغ سره کله‌کړی . بیکاره ده چه‌دې افسانو به د پاچا پهلور هیڅ اغږه نه‌کوله اوپاچا به هم تول د جلادانو تسیر و تور وله سپارل ، نور نوچازړه نشوی کولای چه‌راوړاند شی، خوورځې تیرې شوې یوا هم‌هغه زور اوپردیس طبیب راپیدای شو، طبیب پاچا ته‌وویل: داځکه‌چه‌ښاردی، چې څوك د مینې پهافسانه نه پوهیږی. په‌پلانی‌غره کې یوځوان‌شپون‌دی، چې (د مینې افسانه) یې زده‌ده ، پاچا حکم وکړچې ورشی، هغه راولی، خوزاړه طبیب ورته وویل : پاچا هډې ووه شه چې که‌ته خپله پسې ولاړ نه‌شې هغه دغره هخه‌نه راکوزیږی .

طبیب ولاړ ، پاچا اوخوتنه نورپه آسونو سپاره‌شول اوسخ په غره ولاړل کله‌چې دغره لمنې ته‌ورور سیدل . ځوان شپونکی ته یې ورغږ کړ، شپانه دغره د پاسه وویل تاسی څوك یی، او څه کار راسره اری؟ پاچا وویل : زه پاچا یم ، قاندی اوریدلی‌چه زما لور نا روغه پرته ده ، غواړم چې ته ورته ...

د پاچا نه هېرشول چه طبیب مخه ورته ښودلی ؤ، شپانه ورپه یاد کړل: (دسپي افسانه) څواړې؟

پاچا وویل: هوهمدغه چې تاوښوده ، یوه زاړه اوله لېرې وطن څخه راغلی طبیب وویل چې سترا پاده ده .

څوان شپانه وویل : هوزده سې ده .

پاچا وویل : که سې دې لورښه کړه په دې دولت، سرو اوسپینو ډډې سوړ کړم .

شپانه پداسې حال کې چې له غره نه را ښکته کیده وویل : پاچا که دمال اوشتو خبرې وکړې زه نه د رحم، (دسپي افسانه) یوازې دسپي له پاره ویله کیږی .

پاچا اورنوخه ونه ویل، زړه یې غوښتل چې دا یې اد په شپون د جلاد انو لاس ته وسپاری، خو یې ونه ویل . شپون د پاچا سره په اس سپور شو او ټول د شاهی ماتی په لور روان شول څوچې د پاچا ماتی ته ورسېدل، شپون یې د پردې شاته کینا وه او ویې ویل : د سپي افسانه پیل کړه، نامحرمې ستر کې باید د پاچا په لوړونه لګېږي.

څوان شپون وویل (دسپي افسانه) هم داسې شی نه ده چې هر څوک یې واوریدی شی که زما او د پاچا تر لور پرته په دې شاو خوا کې بل څوک وی افسانه به مؤثره نه شی او زیاته یې کړه چې تو لدې لېرې شی .

پاچا حکم وکړچې د نجلۍ په مانۍ کې دې هیڅوک نه پاته کېږي .
په مانۍ کې یوازې شپون او د پاچا لور پاتې شول . ځوان شپا نه پرده
پرته کړه د او کوتې ته ورننوت. شهزادګی او ږده غزیدلې وه ، هیڅ
او هیڅ شی ته یې پام نه وه ، شپون د دروازې څنګ ته کښناست او په
اوچت اواز یې وویل : اې ښکلې نجلۍ ... اې ګل څانګې (دمینې افسانه)
درته او روم ، اوږې یې ؟ ... ګل څانګې اشنا څېر واو وهه ،
وروبې سرا پورته کړا وستر ګې یې په ځوان شپا نه کې خښې کړې اووې
ویل : هوغوږ ورته نیسم وې وایه .
شپون (دمینې افسانه) پیل کړه او وې ویل :
ژنه ژیو پاچا وچې د شپږ واوو کالو یوه لورۍ د رلوده ، د
نجلۍ د یرې وینځې او مرییونه د رلودل. یومز دورې حمید نومېده
چې تر دې لږ مشرو. د دوې خورلو په وخت کې به کهد نجلۍ د سمال
په سحکه ولویده حمید به ور کاوه . که به د لو هو په وخت کې
توپ لوبې ولاړ ، حمید به پرته راوړو. کله به هم نجلۍ د کاڼ د نده
هوس وکړ ، کاڼ د نده یې د سرواوسپښووه. کله به چې نجلۍ و یده شوه
حمید وظیفه د رلوده چې دوره په شاکې څملی څو و ینځې مه یونه او
نوکران پوه شي چې هغه ویده ده او راویښه یې نه کړي .
د پاچا لور به چې هر امر د رلود حمید به په ورین تندی او خوښې یسی

ولاړ او کا روته يې هسې په ترسره کول چې د پا چا لور هيڅکله د هلو لاس نه وړې پورته کړی . حميد پاچا په لورمن ؤ ، ريښتيا ريښتيا پرې ګرانه وه ، ددې په فکر دې کار هيڅ عيب نه درلود ، اخر ګرانښت څه عيب لرلی شی ، کله به چې په بن کې سره يوځای ؤ او د پا چا لور به پتنګان نيول يا به يې کاڼ ونه ګوله ، حميد به ځان هسې خوښ او خوشحاله ليده چې سه يې پوښه .

هيڅوخت د هغې په ليدونه سړيده ، زړه يې غوښتل چې تر لاس يې ونيسي ، د واړه سره و ګرزی او پتنګان ونيسی خو د پا چا لورځوک نه خوښول ، ويځو اومر ئيوته به يې په سپکه سترګه کتل او خپل ځان ته يې نژدې نه پريښول ، حميد همغسې خوښ او خوشاله ژوند کاوه تر هغې ورځې لورې چې پوه شو : نورنو نشم کولای چې د زړه راز پټ وساتم . همدا وچې ، يوه ورځ يې د پتنګ نيولو په وخت کې نجلی ته وويل : اوشهزادګی زه په تا مين يم ... هيله کوم چې په ځوانی کې زما ميرمن شه .

د پا چا په لورد اخبره دوسره بده وليګده چې حميد يې په ځپره وواهه او له کوره يې وشا ړه ، خو دا فکر يې ونکړ چې څه بلا به پرې راشی ؟ .

ځوان شپونکی غلی شو ، شهزادګی وويل : شپونکيه ولې خپه وشول ؟ شپانه وويل :

اې ښکلې نجلی ته څه فکر کوې په څه پلار به اوښتی وي ؟ نجلی وویل:
ما هیڅ فکر ندی کړی او نه پوهیږم چې په څه پلار به اوښتی وی،
ته پوهیږې چې څه پرې وشول، راشه وړاندی اووې وایه.
شپو نکی پاځید اود نجلی د پالنګ څنګ ته کښیناست، دهغې
لاس یې په لاس کې ونیو او د (مینې افسانه) ته یې داسې ادامه
ورکړه.
د حمید پلار شپون ؤ، حمید د یرې دښتې او ډاګونه پلی تر پښو
و پستل خو یې چې خپل پلار په غره کې پیاسوند. پلار یې نا روغه ؤ، او
د پسونو په پټولو ګالی کې ویده ؤ. خو یې چې دده همزولی وه، رمه
ووله ته بیولی وه، پلار یې د زوی په لیدلو ډیر خوښ شو او وې
ویل:
حمیده څه په وخت راغلې، زه مړم، خور دې یوازې مه پریږده،
یوازې ټوب و ژونکی رنځ دی.
پلار سر شو. زوی هلته دغره په سر ښخ کړه. سازد یکر مهال چې
خور را ستنه شوه د پلار په ځای یې و رور ولید، دوارې په خپل
پلار پسې ډیر وژړل او په قبر یې ګلونه وکړل.
ورځې، اونۍ، میاشتې او کلونه تیر شول. حمید او خور یې اوولس کلن
ـ اتلس کلن شول، دوارو به غرونه اودښتې تر پښو ایستې، رمه به یې په
ډیرو شنو ځایونو کې وله او شپې به یې د خپلو پسونو سره په ښه ځالو کې
ټه رولې او چې کله به پسونه په ژمنیو ځایونو کې ننوتل او دوی
به وزګاره شول نو کله نا کله به چارته هم را تلل.

د حمید خورد پسرلی د وړې غونډې پسته ددوې د لمر په شان ناڅه، معطره، د مینې وړاوډې دشوود سوې په شا ن رو بانه" په زړه پورې اوږیدیا یې غاتول په شان سره، سپینه او غرمنې وه. په همد ی توسن به حمید غاتول بلله .

یوه ورځ یې چې رسه راسته کړه حمید ولیدل چې یوه وزه درې مخه کمه ده، د یوه تکړه سوی په ملتیا په وزه پسې روان شوه، د مخو غر و نه واو ښت، و یې لیدل چې وزه په یوه چونه ناسته ده، ژاړی او د ډانې په شان ریږدی. سپی چې وزه و لیده و غږیداو پر غږ یې کړ: مه ژاړه ... د رغلو .

وزه خوشاله شوه اووې ویل :د اریدم چې رابه نه شی اود لیوانو خوراك به شم. کور ودانی وایم .

هواورو وروتیاره کیده، حمید ولیدل چې د غره د یخه او وه دانې سپین اسونه مخ پورته راروان دی نو یې وزه سپی ته په لاس ورکړه او دواړه یې ولیږل د ی د یوه کمره شا ته منتظر کښینا ست، اسونه چینی ته راورسیدل په هر یوه باندی یوڅ ا رڅوڅی یې له او یوه مخه ډك کړل، کله چې بیرته ستنیدل یوه اس تاره کړه: نورنو په همه مانی کې یوازې ژوند نشم کولای یا هم د لته ځان وژنم یاځم خپل ښا رته، تاسې هم ورشی خپلو ترلو (د تر ولورانو) ته .

خونورواسونوداډ گیرنه‌ورکړه اوتول ډیرته ستا نه شول. حمید هم ډډوی پسې روان شو، ولاړل، دډیر وغرو څخه واوښل شو هغه څنګله‌ته ورسیدل چې یوا لوتونکی، خوځیدونکی اوښر یدونکی ژوی هم پکی نه‌وُ. په‌څنګله کی اووه‌ښکلی مانی لیدل کیدې، آسونه ډیلوډیلو مانیوته ورننوتل، حمید کرار په‌نندارې ولاړو، یو څلې پې‌سپینې کوترې ولیدی چې‌د اسمان څخه راکوزې شوې اوهره یوه یوی مانی ته ور ننوتې حمیدډیا هم سترګی په‌لاره‌ولاړو، دژړا غږ پې واورید، تولو مانیوته پې ډیل ډیل سر و ر وکتل په هره‌مانی کی پې‌دسپوږمی‌په‌شان ډیغله اودامړه شان ژلمی ولیدچې په خپرو اوخندا سره لګیاؤ خوښې اوومه مانی کې‌پې‌یوه‌دیر ښکلی ځوان ولید چې‌یوازی ناست ؤاود ګډ په توتوپې د(غاتول)ګل انځوراوه اوپه سلګیو سلګیو ژړل، هسې پې ژړل چې دکانی زړه پې‌نرماوه، حمید ورننووت، سلام پې ورکړ، او وې وېل: اې‌ځوانه مه ژاړه، زړه‌مې‌دې خورین کړ.

ځوان سرراپورته کړاو وې‌ویل: ته‌څوك پې اوله کومه ځایه راغلی ؟

حمید وویل :

زه‌دغره شهونکی یم ستا دژړا غږمی‌واورید، ځکه‌دلته‌راغلم.

څوان وویل: سها رسې په غره کې ولاړې ، چې شوې چې راغلې ، راشه کېنه ، چې زړه سې د خبرو سلګۍ څوځت .

حمید کېناست او وې ویل : ولې دې ژړل ؟

څوان وویل: زما کیسه لږه اوږده ده که یې داوریدو توان لرې کېنه درته وایم یې .

(۴)

داوخت یې خوله کیسه پیل کړه او داسې یې وویل : «مونږ اووه وروڼه یوو ، دوې ورځې کوچې چې دې ځنګله ته راغلی یو ، په چارکې اهنګران ؤ ، یوزوړ پلار مود راوړ چې دچارتر تولو تور و جوړونکو نه ښه اوړی ؤ ، دورځې به سوا هنګرې کوله اودشپې به سوبه ښه اوترځنګه لاندې ټوړې جوړولې. ماچا دوسلې جوړول ښه کړي و خو ځنګه چې دنیا رخلکو تورو ته ارتیا درلوده مونږ مجبور وو چې دشپې کار وکړو . په دوکان کې سوبولوی سندان دراوړ چې دمعمولی سندانو څخه لس ځله لوی و ، اته تنه به تړې تاوشوا وېلکونه (ما رتول) سووهل . یوه ورځ سوپلار راته ووېل: زامنو زما ښې د کور پر څارې دی ، زه سرم ،خو تاسې به د پرکلونه ژوندی وی ، نوهکه دژوند یوې سلګۍ اوسا ندینې ته ضرورت لرې ، دواړه وخت موهم را رسیدلی دی ، له تاسو سره داسې ښځې جا ډې چې ستاسو په شان ښې راوناړې ، ېلکونه وارکړی او تورې جوړې کړې ، ستاسو په ترلوکی داسترې



(قوت) شته او داچې‌کنه لري‌دې له‌يا‌ره چې تاسو هم خپل لياقت څرګند کړی‌وی‌ما اوستاسو ارواښاد تره ستاسود آزمېښت له‌يا‌ره ډوه آقشه ايستلی‌ده. ستاسود تره دلورانو پټه‌سو د همدې سندان‌په زړه کې اېښی ده، تاسې‌بايد‌هوه‌داسې تېره‌اومضبوطه توره‌جوړه کړی، چې‌په‌هوه‌وارسند‌اندوې‌توتې کړې‌هود خپلو‌ترلوپټه‌ترلاسه کړی.

پلارسو هوورځې وړو سته سړشو، سوبه‌به کار لاس ډوړې کړ، زيات وخت ترسخګی لاندی دوسړو، ډولادو او پلکونو سره اخته وه‌و‌خوهره توره پهسوچې جوړه کړه پهسندان‌يې هېڅ‌نه‌شوې کولای‌او خپله پهدوې توتې‌شوه، خې‌ژمې به هوه تيارره او سره همه‌کې‌دداسې هوې‌تورې پهجوړولو بريالې شووچه‌دسندان زړه‌يې ډېری او دوې‌توتې کړ،دسندان له‌سنځ څخه‌يو کوچنی‌دپلی‌راووت، ددپلی‌په سنځ کې‌هوه پاتې‌اېښې وه‌چې هرې لمخل هوې ؤ: تورې جوړو نکو تر يو رانو.

ستاسود‌تورې له‌تېرواليې‌نه‌جار، ژرتر‌ژره راشی، زړونه سوپه تاسې پسې کاږه دي او ډېر سو ياد يې.

لوڅې دپټې سو په ونوپټې کړې اوشاوخوا ځايونه سوتول جارو کړی‌دی، تاسوته‌ستر‌ګې پهلاره يو، ز سوبه پټه‌له‌پسرلی‌له‌لمرنی سره‌رغاتول) نه‌وپوښتی. ستاسو ترلې.»

دې پاتې سو تلوسۀ دوسره زياته کړه چې مه يې پوښته،

غوښتل سوچې همغه شيبه يا خپرو او په پرله نجونو پسې ولاړشو، خو نه يې په پته پوهيدو ، او نه موخپل کار پريښودی شوی. د بازار تور زنو همغه ورځ د زړو دانو ټيرو تورو غوښتنه کړی وه چې د ژمی تر تمامېدو مخه موبا يد ورسپارلی وی ،تصادفاً ژمی اوږد شو، پسرلی په لمنه راغی، زمونږ تلوسه ورځ په ورځ زياتيده، واورې نوې ويلې شوې وې چې د غونډی په سرې پوښکلی سور(غا تول) ولمد چې په تټر پې پوستر تور داغ درلود .

له (غا تول) نه سې پوښتنه وکړه :

زمونږ ترلې چېرې دی ؟ نښه يې په لاس راکړه .

(غا تول)سر راپورته کړ او وې ويل : د ترهزو په اما پښکل کړه چې د رويې ټيم. زه تيټ شوم (غا تول) سې پښکل کړ، (غا تول) را ته وويل: سپر کال ژمی سخت تيرشو او پسرلی په لمنه راغی ، د ترهلورانې مودې پرې د پسې خپه او ناکرا ره دی . ان تردې چې که ژر ورنه شی ، غا نونه به ووژنی. زه به تا سوته داراز درويښم چې هنګه کله دکوترو په جامه او کله د اسو په جامه ولاړشی،هو په ډېره ورو رسېږی .

(غا تول) دلجونو پته په لاس راکړه اوراوښودل چې هنګه کله د کوترې په بڼه او کله د آسو په جامه ولاړ شو. وروستی خبره يې ډا هم ما ته وه :

تر هوره! زړه مې هواړی چې ما وشکوي او له غانه سره مې وګرځوي خوځه وکړم چې بخښنې د (غا تولو) تول زړی وچ کړی دی. که زه هم نه وم نو هوک به دې غوندې یوته سړې جامې ور واغوندی، هوارم چې وې نه شکوی تر شوخهل زړی هرې خواته وشیندم او شولډی یې له (غا تولو) څخه ډکې کړم اوسړې یې کړم.

له (غا تول) څخه ډل شوو تورې سوځوانانو ته وروسپارلې، غا نو نه سود کوارې په ښه کړل او روان شوو، کله چې د ډیرو الو تلونه ستړی شوو داسو یې غږ ه شوو له ډیروغرونو ښکته نواو دښتو څخه تیرشوو خوچې هرون سا زدیګر همدې ګن ځنګله ته را ورسیدو اودا سانې موولیدې، خودانې پا لنګونه هم پکې ایښې وو، کرار کیناستو ماښام مهال شپې سپینې کسوترې دځنګله له هوې ځنډې څخه راښکاره شوې، چې سوې یې ولمدو خو شا له شوې، راکښته شوې.

او د خپلو جامو څخه راووتې، غوښې یې وروسته د سهار مهال په غاښ شپې ځکلې نجونې ترې جوړې شوې، اووې وې: د ترهزاسنو یې خیر راغلې یې!

هغې یې ساته وکتل اووې وې: د ترهبچیه، ته هم په خیر راغلې، زمونږ کشری خور غا تول وې چې صبر کوه سبا کال ژمی سوړ اواوږد تیرشواود (غا تول) تول زړی یې وچ کړل. که (غا تول)

داکارنه‌وی کړی سوبه سود تل لپاره ورکې کړی وی . هغه نور نوزړی نه‌وهاتې چې ګلو نه و هوړوی او زموږ لښه تاسوته په لاس در کړی . که زموږ خور غاتول خپلی وینی په‌هغه نه‌وی توپې کړې مخکې به د تل د پاره غاتول هېر کړی وای او خلکو به‌هم نورغاتول نه‌وای لېدلی .

ددغو خبرو په اور ید و نژ د پې لـــو نی شـــو ی وم چـــغـــه ســې کـــړه: نـــوهغه دغونډی دپاسه‌سور (غاتول) زما خپله غاتوله‌وه .

تولو خویندو په یوه‌آوازووېل: هوهغه دغونډی دپاسه‌سور غاتول زموږ کوچنی خور غاتوله وه. د پې نه غو ښتل‌خلک دا خبره ومنی چې رښتیا هم (غاتول) په‌ید یا کی نشته،غوښتل یې چې غونډی ته یا په غاتولو وهوښی او سړې یې کړی،هو ! سینه یې تر سوبه تولو زیا ته‌وه،ځان یې تر سوبه او ترسخکه جار کړ.

یوه شېبه سې په زړه کی‌راو ګرزیده : ورشه (غاتول) راو- هکوه‌خو دهغې سرخلند نه‌دومره زیا ته‌وه‌چې زه‌غلی شوم تر لوسې‌ووېل چې زه‌په غاتول د یر کران‌وم،هرا یې تول‌د غا تول په‌سا نی کی ؤ، اوس‌سې دورونو‌او تر لودواده‌وخت هم وار سره‌لی د ی ، خو‌دوی خپل واده زما له‌پاره هغه‌وی. ما هم نه‌پر یږدی‌چې ځارته ولا ړشم. نن ېواز ېتوب د یروهوروولم ،د یرسې‌وژړل‌چې دخپل زړه‌دوک‌وباسم، تا ته‌کور ودانی‌وایم چې‌راغلې‌او زما د زړه‌خواله‌دې واوریدل.

کله چې ځوان خپله کیسه تمامه کړه، حمید وویل : ته ما ته وژاړې ، زه هم یو وخت دا چا په لور مین شوم، خو هغې له خپلې مانې نه وشړلم او ما هم هیره کړه.

ځوان یو شتنه وکړه ده دې وې سیده ؟

حمید وویل: نه که بې اوس هم وینم یا هم یې مین یم ، دومره چکلی ده چې حد نه لري ، بې جوړې ده ، خو کړه وړه یې ډاوړه اوړه ډان خوښې (خودخواه) وه زمستاد غاتول یوویښته دا چا په زرولو نو نه ورکوم .

یا ځوان وویل : حمیده ! ته یوازې ژوند کوې .

حمید وویل : نه، زه سې د خپلې خور (غاتول) سره ژوند کوم .

ځوان وویل : ودې وې (غاتول)... هغه ښکلې یې غله چې ستا سره رسه وې یې ؟

حمید وویل : هو همغه غرځنی ، بې سخی یې غله ! هغه سې خورده .

ځوان له خپله ځا یه یو ر ته شو او وې وې :

حمیده ، زه څه درته وې غواړم خو دار یو م چه یه قهر یه شې .

حمید وویل : یو هیږم چې خورسې غواړې ، ښه ده ، هغه چې همدا اوس ولاړ شه، که بې سلا وه درسره را یې واله ، زه رسه یوازې هم یوولیږم .

او ځوان حمید ته وروښودل چې څنګه د کوتري او څنګه داس یه

جا سه ولاړشی .

دغا رهه سهنځ کی غاتول د هوې هوې وزې په ډیر ه سنځ ټهرولهه هروخت په چې هوا زې وه اوخوب به نه ورته ، همدا کار یې کاوه . وزې لیکه نا ستې وې او د غاتول نکل ته یې غوږ نهولی ؤ ، بسو نو هم غوږ نهولی ؤ خوځهنی و یده ؤ اوورووریی شخوند و اهه سپی د غا ر په خو له کی چرتی ناست ؤ . د نهمی شپی د سپو ږمی وړانگو غاړ نا کړی ؤ ، لږ ځند وروسته سپوږ می غاتول ته وویل : غاتول ! پاڅه د یوه بله کړه زهځم ، نوره نشم کولای چه دلته پاتې شم .

غاتول پورته شوه ، دغا رهه سخه کې یې د یوه روغا نه کړه . سپو ږمی وروور ولمن څکلې ورته له کړه او لاړه . نکل نوی پای ته رسیدلی وهی دوې کوتری را و ورسیدې ، یوه یی تکه سپینه وه ، بله یې هم سپینه وه خوپه ټټر یی یو سور داغ درلود .

غاتول ووویل : عاجزانو لارسوور که کړې ده . واشی ماته راشی سپینې کو تری خا لداره کوترې ته وکتل او په ستر کو کې یې ورته ووویل :

ورشه وړاندې ، مه ویریږه ، خالداره کوتره ورغله دغاتول په لاس کې نا سته ، غا تو ل و ر ته و کتل ا و څکل یې کړ ه ، بله کو تره هم راغله او دغاتول په لمن کې نا سته .

غاتولې کوترې په همکه کې څوډې اووې ووویل : تاسو همدلته اوسی چې زه دانه درته راوړم .

غا تو له په دا نوې سې ولاړه ، کو تروڑر جامې بدلې کړې ، سپی

PROPERTY OF ACKU 7341

د حمید لپاره لوتهر اغی او مخې ته یې کیناست .

غا تول چې د دا نو سړه را غبر گه شوه نه غا ړ کې یې خپل وروونو لپاره چې د یوه ښکلی ځوان سړه ناست دی ، او کوتري نشته نه تعجب یې وو ویل : ته چیرې تللی وې ، دیرځنډ دې وکړ .

حمید وویل : راشه لومړی می د اسلګری وپیژنه ، بیا درته وایم چې ولې می دومره ځنډ وکړ . د اسلګر ې می په تاسی را غلی دی .

غا تول لومړی غلې شوه خو وروسته یې وویل : زما کوترې سوونه لپاره چیرې ولاړې ؟.

حمید وویل : موږ چې راانو توو الوتې زمځم چې پیدا یې کړم له دې ځایه نه دیرې لیرې نه شی تللی تاسې دوارې کوټی او خبرې وکړی .

حمید تردې خبرې وروسته د با ندې لاړ ، د بټې ته سخامخ په یوه پرښه کیناست ، لږ ځنډ وروسته متوجه شو چې غا تول او ځوان لاس ترلاسه راروان دي ، حمید په لوړآواز ې غ کړ ، مبارک دې وي .

ځوان وویل - ملګرې یه که ستا خو به وی زه غواړم چې غا تول سمدلاسه له ځانه سره بوزم چې ورونه او ترلی یه سې اند یښمنې وي .

حمید په خندا غا تول ته وویل : غا تول ! کوترې دې نه غواړې ؟

غا تول په سوسکا ځواب ورکړه بس کړه حمیده ، په ما وښه لوبه وکړه ، نن د شوخی دیره زیا ته شوې ده .

دری واړو وخندل ، ځوان حمید ته وویل : سبا سا زد یکر په ځنګله

کې تا ته منتظر یو، راشه چې زموږ واده دی. وروسته د یوه سوهن اس په جامه شو، غاتول یې په شاسوره کړه اوروان شو، حمید تر چرکه غږ. هلته په کمره باندی ویښ پاتی شو.

چرکه غږ مهال پورته شو او درسې څنګ ته ویده شو.

هدې شپه په څنګله کې سخت شور زوږ ؤ، خو حمید و نکی، الوتونکی او غږیدونکی له څمکی او اسمان نه راپیدا کیدل اودو نو په شا خونو او څمکه کې یې ځان ته ځا لې جوړولی، دوی ټول د ودونو لپاره رابلل شوی ؤ.

اووه ټنه اهنګرورونه دخپلو ځوانو اوښکلیو مورمنوسره د یوه لوی میزشا اوخوا ته ناست وو او ما ښامنی یې خوړله، حمید هم هلته ؤ. دوی تا کلی وه چې، نیمه شپه به ناوی اوزومان څنګل پریږدی او بیا رته به ځی، دوی غوښتل چې حمید هم له ځا نه سره بیا رته بوزی خو حمید راضی نه شو او وې ویل چې زه با ید خپلې میرې او وزې کاله کړم.

نیمه شپه او وتنوزوما نو ځا نو نه د کوټرو په جامه کړ ل او والوتل، حمید لږ څنډ په څنګله کې پاتې شو خو یواز یتوب وځوراوه، اخر تر یوې وني لاندې کینا ست او یوه ګړۍ یې وژړل چې زړه یې تش شو بیرته خپلې رسې ته ستون شو.

ځوان شو و نکی بیا غلی شو، ستر کې یې د شهزادګی په ستر کو کې خښې کړې خود خپلو خبرو اغیزه دهغې په ستر کو کې وو یني، نجلی په لږ زیدلی آواز وویل: دوام ورکړه، حمید بیا خه شو؟

شهونکی وویل :دهمدې شهې سپاته ېوا حمیدته دپاچا لور ویاړده شوه اوېوه شو چې تر اوسه لاپرې ګرانه ده ،محکه یې لهغانه سوه وویل :دغره شهونکی به نه وم چې په سدې نه کړم ... او هېڅوم چې هغه ېرې وکړم خودپاچا لورخپل غیر انسانی کړه وړه ېر ېږدي. هوا دا ېا ېد له هغه اشرافی اوغیر انسانیژوند څخه ېله کړم .

نو ېې د کوتري جامې واغوستې اود پاچا دلورېن ته ورغی ، دومره صبر ېې وکړ چې شهزادګی له کوره راووته ،راغلهاو د شیدو په حوض ورننوته ، حمید هم را غې د حوض ېر غاړه ، دا نادونې په چاخ کینا ست او وې ویل: اې ښکلې نجلی ته د یره چا یسته یې زه په تاسې شوم ،هیله کوم چې د شیدولهحوض څخه راووزه خو دې ښه ننداره وکړ م .

لنده داچې شهزادګی ېې په توله کیسه خبره کړه اوزپاته ېې کړه چې :شهزادګی نارو غه شوه. حمید د یوه طبیب په نامه راغی اوپاچا ته ېې وویل چې که چېرې شهزادګی (دمینې افسانه) واوري روغه په کې . په ډاره کې خوك دمینې په افسانه نه پوهیدل حمید ېوا دهماغه طبیب په ځیره راغی پاچا ته ېې وویل چې په پلانی ځره کې یوهوان شهونکی شته چې (دمینې افسانه) ېې ښه زده ده او که چېرې پاچا په خپله یې ولاړ شي لورته به ېې راشي .))

هوان شوونکی ېما غلی شواود نجلی حورا نوستر کوته يې وکتل ،وې
خندل اووې وېل: هوا ای ېکلی نجلی، اې کل غانکې کېسه د اسې وه،
پلار دې چې يوه ورځ بې سېی غوندې له کوره وشړلم ، غره ته راغی او
زه يې تا ته راوستم ، اوس نوشه ېکې وا يی ؟

کل غانکه ېه ژړا شوه ،له ستر گونه يې غټې غټې اوښکې را تو يې
شوې اووې وېل: حمیده وروسته تر دې به زه خپل شهزاده توب
د قل له پاره هیر کړم .

زه نوره نو يوه شهزاد گی نه يم، زه تا غواړم ، زه اوس
پوهیږم چې څومره مې ستامینې او محبت ته ارتیا در لوده،
ما له غانه سره يوزه ، غواړم چې د نورو په شان ژوند وکړم .
حمید ووېل : ستا له پاره دیره ګرانه ده چې د نورو په شان ژوند
وکړې، هسکه چې ته په ناز او ېه نعمت کې لویه شوې يې ،
خو که ته وغواړې خواه مخواه به له خپل نوې ژوند سره هم بلده شی.

گل غانګی ووېل : که له تا او نورو خلکو سره واوسم هر کار
به اسانه وي ... هیله کوم حمیده ! ما له غانه سره يوزه ، حمیده
گلغانکه يوازې مه پرېږده .

حمید د گل غانګې او ښکې پاکې کړې ، د جیب څخه يې
يوه سنه را اووې وېل :



اوس ته ستړي يې، راشه د امنه زما له لاسه واخله ، زه به وروسته په تا پسې راشم ، نور به د تل له پاره په تا گران وم ، زه په دې پوهيږم.

شهزادګي منه تري واخسته او وې خوړه ، ستوني يې سټغ پريوته ، ستړګي يې ورو ورو پټې شوې او په خوا ده خوب ويده شوه .

حميد پاڅيد گل څانګه يې په مخ ښکلی کړه اود باندې ولاړ پا چا ته يې خبر ور کړ چې لور دې څه شوه ، تر دريو ورځو پورې دې څوك د مانۍ په شا او خواګې نه ګرزي چې خوب يې هوره شي په څلورمه ورځ ورشي، او ښه يې کړي.

د ښځې ورځې په سهار چې لمر لا نه ؤراختلی ، حميد د کوتړې په ښه گل څانګې ته راغې . ښه يې بدله کړه ، يوسور گل يې د هغې هزې ته ورنژدې کړ ، گل څانګې ستړګې وغړولی او موسکی شوه .

حميد وويل : ښه ويده شوې؟

گل څانګې وويل : هو ښه خوب سې وکړ ، اوس سې درسره بيا يې ؟

حميد وويل : هو ! پاڅه په باغ کې ځان پريمنځه چې ځو .

(۵)

لمر نوې راختلی ؤ چې د حوض پر غاړه د انار له ونې څخه دوه سپينې کوتړې پورته شوې اومخ په لمر وا لوتې .

(پای)

PROPERTY OF ACKU 7341

داطلاعاتواو کلتوروزارت

بیهقی کتاب خپرولو موسسه
به‌ډیر ژر دمطالعی علاقه‌لرونکو
ته‌دالاندی آثار وړاندی کړی :

۱ـ تفسیر شریف ۲۱ توک
«پښتو» .
۲ـ تفسیر شریف پارهٔ‌چهارم
«دری» .
۳ـ سپین .
٤ـ بزرگترین اختراعات و
اکتشافات .
٥ـ غرغشت یاگرشاسب‌نامه.
٦ـ گزیده اشعار بیدل .
۷ـ بازار های سر پوشیده
تاشقرغان .
۸ـ بی‌گورستان .
۹ـ هنرشاهنشاهی‌کوشانیان
۱۰ـ اصلاحات ارضی :
«پښتو ودری»
۱۱ـ مدیر مسوول طنزنویس
۱۲ـ جریده بلخ .

PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

دولتی مطبعه